د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د وياند دفتر
کابل – افغانستان

تيليفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بريښناليک: spokesperson-unama@un.org
ويب پاڼه: www.unama-afg.org

**رسنيز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**کريستينا اګز د ملګري ملتونو د مخدره توکو او د جرم د دفتر مشره په افغانستان کی**
**داکتر نيلاب مبارز د يوناما د وياند د دفتر څخه**

*کابل- د اکتوبر د مياشتی ۲۷ نيټه، کال ۲۰۰۸*

سهار مو نیکمرغه او د یوناما مطبوعاتي کنفرانس خوني ته ښه راغلاست. زه نیلاب مبارز یم، د یوناما د ویاند د دفتر کارکوونکې. زموږ نننی ویانده آغلې کریستنا اګز د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د دفتر څخه ده، نوموړې به د اړوند مسلو په هکله تاسو ته معلومات درکړي. مخکې له دې چې زه د خبرو فرصت نوموړي ته وسپارم، اجازه راکړئ د افغانستان د راډیو او تلویزیون څخه څه نوی معلومات درکړم.

**په بادغیس کې د رغول شوي منځنی څپو راډیو پرانستل شوه چې د ښځو ښوونې او روزنې ته وده ورکړي.**

په بادغیس کې د ښځو لپاره د ښوونې او روزنې په موخه د کډوالی نړیوال سازمان تیره اونی په قلای نو کې د افغانستان راډیو تلویزیون یو ستیشن او د دله بیزه رسنیو یو مرکز جوړ کړ. د نړیوالې کډوالي سازمان همدارنګه د راډیو د پروګرامونو او د تولګیو پر بنسټ د کورسونو له لارې د سواد او اساسي روغتیا کمپاین بشپړ کړی دی. دا کمپاین په نږدې ۴۰ کلیو کې نږدې ۱,۶۰۰ ښځو ته رسیدلې دی. د دې پیښو په جریان کې کلیوالو ښځو ته هم د راډیو مجموعي وویشل شوې.

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر**

لکه چې تاسې پوهیږئ، سږ کال د کوکنارو په کښت کې ۲۰ ٪ کمښت و له ۱۹۳،۰۰۰ څخه ۱۵۷،۰۰۰ ته او کوکنارو کرل نور د افغانستان ستونزه نه ده په حقیقت کې د سهیل او سهیل لویدیځ ستونزه ده.
۹۸ ٪ کمښت په یوازې اوو ولایتونو کې و لکه هلمند، فراه، کندهار، اروزګان، نیمروز او په لږ کچه په زابل او دایکندی کې. د هیواد نوری برخې د کوکنارو له کښت څخه پاک دی او یا تر ډیرې اندازې په کې کم شوی دی: ۱۸ ولایتونه هغه دي چې هیڅ کوکنار په کې کرل شوی نه دی.

د ا یو خورا ستر بری دی، او دا څرنګه منځه ته راغی؟ دا له دې کبله و چې دولت یو ډیر څرګند پیغام درلود- له ولسمشر کرزی څه نیولي تر وزیرانو، والیانو او تر ملایانو او د تولنې تر مشرانوپورې.
پیغام واضح او څرګند و، او کروندګر په هر ځای کې ورته غوږ ونیو له سهیل څخه پرته. کروندګرو واوریدل کله چې دولت وویل د کوکنارو کښت د اسلام ضد دی، وایې اوریدل کله چې دولت وویل د کوکنارو کښت بې اتفاقي، تاوتریخوالی او د نشه یي توکو ناوړه کارول تولنې ته راوړي.
نو کله چې په افغانستان کې ۹۰ ٪ کروندګرو خبره واوریده، هغوي دا ښودل چې بدلون ممکن دی، چې خلک کولای شي خپل عادت ته بشپړ تغیر ورکړي او له سمې مرستې سره خپلو چلندونو او عقیدو ته هم. نو موږ په خپل دفتر کې ولیدل چې کوم ډول مرستې او ملاتړ د بدلون لپاره کار ورکوي او موږ د تیر موسم تر پلان د مخه معلوماتي کمپاین مطالعه کړی دی.
نتیجه به څرګنده رابښیي چې د معلوماتو برابرولو یوه ساده لاره هم شته چې تر سمو شرایطو لاندې، کولای شي مناسب پیغام ولیږل شي او تولنه هڅولی شي چې عمل وکړي. د پیغام متن مهم دی او البته زمینه او همدارنګه چې څوک د غه پیغام استوي هم مهم دی.

اجازه راکړې څو مثالونه درکړم،

په افغانستان کې په عام طور خلک به دې پوهيږي چې د کوکنارو کرل د اسلام ضد دی، خو مذهبي پيغامونه کيدای شي چې لږ څه زيات يا کم قوت ولري.
زموږ څيړني را وښودل چې به هرات او ننګرهار کې اسلام او سپيڅلي قران ته اشارې خورا ډير قوت لري او خلکو په ډير دقت سره د ملايانو وعظونو ته غوږ ونيو.
له بلي خوا په بدخشان کې خلک تل په دې قانع نه وو چې د کوکنارو کرل حرام دی. خو هغوي په دې پوه شول چې د ترياکو او تاوتريخوالی تر نځه د ټولنيز جرم په بڼه کې اړيکه شته. د بې اتفاقي او جنايت تر منځ مناقشه په ټولنه کې هلته ډير قوی وه او همدارنګه په بلخ کې هم، خو هيڅرې کروندګرو د ترهګری او کوکنارو کرلو تر منځ اړيکې ته قايل نه وو.

دا موږ ته څه وايي او هغه دا چې بايد محتوی داسې سم پيغام ولري چې پر اوريدونکو باندې اغيزه وشي، دغه محتوی د يو ولايت څخه بل ولايت او له يو ځای څخه بل ځای ته توپير کوي.

موږ بايد د دغه حالت او متن اهميت ته په کمه سترګه و نه ګورو. د بيلګې په ډول موږ دغه پوسترونه په کليوالو سيمو کې ډير لږ وليدل، هغه زياتره په لويو ښارونو کې دي. تلويزيون هم زياتره په لوی ښارونو کې دي. راديويي خپروني هم د پوښښ له لحاظ عامي نه دي خو هغه د تلويزيون په پرتله ښې دي. د اعلانونو تختې اکثرا زياتې اغيزناکې نه دي ځکه چې خلک پيغامونه نه شي لوستلای.

په دې توګه موږ د مفاهمي د ډير ځواکمني وسيلې سره پاتې کيږو: هغه د خولې لفظ دی. موږ په دې باور يو چې د عوامو با نفوذه مشران او ملايان بايد وهڅول شي چې هغوي دغه پيغامونه خلکو ته ورسوي.

نو په دې ډول ددې لپاره چې بدلون راوستلای شو نو په کار ده چې مفکورې بايد په ياد کې د پاتې کيدو وړ وی او هغه بايد د اوريدونکی او اخيستونکی په مغزو کې ځای ونيسي او موږ د عمل پر لو بوځي، نه يوازې د محتوی پر لحاظ بلکه همدارنګه د وړاندې کولو له مخې او دا چې پيغام څه ډول ترسره شوی دی او څه ډول جوړښت لري چې دا هم خورا يات اهميت لري.
په ننګرهار کې خلک اکثره پوسترونه خوښوي، په تيره بيا هغه چې په کې اسلامي طرز فکر او اخلاقي ښوونې دي. دلته د بيلګې په ډول يو پوستر دی چې هغه د روښانتيا (قلم) او تخريب (کوکنار) تر منځ تړاو ښکاره کوي چې هغه ډير مشهور و.
په بدخشان کې خلک دغه نه خوښوي، هغوي وايي چې دا ټول بهرني شيان او د اسلام پر خلاف دي.
حتی که خلک حکومت ته غوږ کيږدي نو ددې مانا نه لري چې هغوی به دې کارته ادامه ورکړي.

دا ولې داسې ده؟ ځکه چې د عوامو لپاره معلوماتو ته بايد د عمل سره تړاو ورکړل شي. او دلته ده چې موږ تر ټولو خطرناکه کمزورتيا لرو او دلته د ننګرهار مثال د توضيحاتو لپاره راوړای شو. تيرو کلونو کې د ننګرهار د کوکنار کښت کښته او بورته شو، دا هغه وخت کښته شو کله چې د مرستو ژمنې وشوې او هغه

پورته ولاړ کله چې ژمنې پوره نه کړای شوې. تیر کال په ننګرهار کې د ۱۸ څه تر ۱۹۰۰۰ پورې هکتاره ځمکه کې کوکنار وکرل شو او سږ کال صفر ته راکښته شول نو دلته ګورو چې دا یو حیرانوونکې او د خوښې وړ کمښت دی خو ددې د عکس العمل او د شاګوزار احتمال هم شته.

د کوکنارو د کښت سره همیشه بیې تړلې دي او دغه بیې د بې وزلو خلکولپاره په ټولنه کې پورته دی. د هیواد په ډیرو برخو کې بزګران پوره خوراکي توکي نه کري چې د دوي اړتیاوې ورسره پوره شي. دلته داسې وګړي شته چې هیڅ ځمکه نه لري او دا هغه څوک دي چې د دې پوره امکانات نه لري څو ګټه تر لاسه او خپلې کورنۍ وساتي. د بدخشان په ځینو برخو کې د لسو کورنیو څخه اوه یې د ډیرو جدي ستونزو سره مخ دی چې خپلې خوراکي بنستیزې اړتیاوې پوره کړي.

د ډیرو خلکو لپاره تریاک یا د کرلو د لارې او یا هم د هغو په کښتونو کې د کار د لارې د نغدې ګټې یوه منبع ده او ډیرې کورنۍ د تریاکو په خرڅلاو بورې تړلې دي نسبت دې ته چې غنم وکري او د هغو د حاصلاتو د لارې د غلو او خوراکي توکو اړتیاوې پوره کړای شي.

په بلخ کې همدغه ډول حالت دی. ډیر لږې د شمیر کورنۍ د خوراکي توکو امنیت لري او دا دې واقعیت سره چې هغوي غلې داني او څآروي د دې لپاره لري چې د هغو څخه استفادې وکړي.

له هغه ځایه چې هغوي خود کفاء نه دي، نو هغوي نغدو پیسو ته اړتیا لرې چې خوراکي توکی راونیسي او په ځینو ځایونو کې نیمایې نفوس دغه نغدې پیسې لري، په ځینو نورو سیمو کې ټول وګړي بوره غنم نه تولیدوي چې د هغوي اړتیاوې پوره کړي.

د خوراکي توکو او نغدو پیسو نشتوالی د بلخ، بدخشان، ننګرهار د ولایتونو د زیاتو وګړو لپاره واقعي ستونزې دې چیرته چې د کوکنارو په کښت کې د پام وړ کښت راغلی دی.

هغوي څه ډول عکس العمل لري؟ هغوي خپل محصول ورکوونکی څاروي که ولري پلوري. هغوي پورنه اخلي- او دا د دې لپاره نه چې په تولیدی کارونو بوخت شي خو د دې لپاره چې خوراکي توکي راونیسي. هغوي لږ خواړه کوي، او هغوي د خوراکي ارزښت له مخې د ټیټ کیفیت خواړه خوري. د دې له امله هغوي زیات ناروغه کیږي او کله چې ناروغه شي نو هغوي عامو روغتیایي خدماتو ته رسیدنه نه لري او په دې توګه پیسې په پور اخلي چې شخصی کلینکونو او ډاکترانو ته ورشي، دا د غربت او بې وزلۍ ناوړه دوران دی.
دغو خلکو د مرستې هغو ژمنو ته چې د دولت او نړیوالې ټولنې له خوا شوې وې غبرګون وښودلو خو ډیری وخت دغه ژمنې نه دي عملي شوي. په ځینو ځایونو کې لکه بدخشان د اقدام او عمل په اړه زیاته پریشانې ده او دا ډیره خطرناکه ده ځکه چې شمال ختیځ د پخوا څخه کم ټیکاو او ثبات لري چې پخوا ؤ.

که څه هم که چیرې موږ د معیشت او ژوندانه بدیلونو ارقامو ته ګورو د مخدره توکو سره د مبارزې وزرات فعال دی ( د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر له خوا ورسره مرسته کیږي.)

نو دلته موږ ګورو چې د بدیل معیشت زیاتې مرستې د هیواد شمالي برخو ته ولاړې چې د کوکنارو د هر هکتار ځمکې لپاره حساب شوې دي چې د جنوب په پرتله د پام وړ دی. خو خلک هغه نه ګوري هغوي حتی د دې احساس هم نه کوي.

نو ځکه زه فکر کوم دلته ځیني څه باید موږ د دې څخه زده کړو: مرستې باید محلي ټولنې سره په مشوره کې ترسره شي او په دې برخه کې باید یو دایمی مشاورت موجود وي. د نړیوال خوراکي پروګرام د کار به بدل کې د خواړو د اقدام هر کلی شوی دی او دا باید منځ مهالي او اوږد مهالو اړتیاوو ته لکه کار چې د هغه څخه نغدې پیسې تر لاسه کیږي ، پرمختیا او بیا رغونه هم هغه اړخونه دي چې هغو ته ځواب وایي.

اجازه راکړئ دلته د لارو د جوړولو مثال راوړم. دا کیدلای شي چې په ډیره چټکی سره یو بهرنی شرکت استخدام کړو څو سړکونه جوړ کړي- خو دلته د پانګې زیاته برخه بهرنیانو ته د تنخاګانو په توګه بهر ته ځي د دې پر ځای چې محلي افغانانو ته پاتې شي. نو ځکه باید موږ په داسې کار کې پانګه ولګوو چې ډیر کار ګران په کې مصروف شي څو په دې توګه پانګونه د محلي ټولنې سره په لنډ مهال کې پاتې شي، د بیلګې په ډول په لنډ مهال کې د کار په مقابل کې د نغدو پیسو ورکول د حل یوه لاره ده.

نو زه ولې سړکونه د بدیل معیشت پرځای مثال ورکړم؟

هر څوک پوښتنه کوي چې دوی په غیر د اپیمو نه نور څه تولیدولای شی؟ خو زه غواړم چې دا ووایم چې ولی مونږ سړکونو کې پانګونې ته اهمیت ورکوو؟

تریاک یو ډیره اسانه محصول دی، ځکه دهقان بل ځای تګ ته اړ نه دی سوداګران د هغوي دروازو ته راځي او د هغوي تریاک نیغ په نیغه د هغوي څخه رانیسي. او دا حتا په هغو سړکونو چې کنډو کپر دي د لیږد دپاره ستونزه نه لري تاسي کولای شئ دا پر خپله ملا وتړئ او په غرونو باندې په اسانی سره هغه ولیږدوئ.

حتا بانجان او کچالو به مشکله سره په سړکونو لیږدول کیدای شي، ولي تریاک په اسانی سره پرته له ویجاړتیا لیږدول شي، خو بانجان او کچالو په کنډو کپرو سړکونو خرابیږي.

که چیرې سړک وي نو کورنی په اسانی سره بازار ته تللای شي او دا ګوري چې کومو محصولاتو ته اړتیا ده او دهغی بیې څه دي؟ کیدلای شي هغوي خپل شیان د ټیټې بیې لپاره ولیږي ځکه چې هغوي په خپل ولایت کې د ټولو شیانو د بیو څخه خبردي

هغوی کولای شی د کرنی د ځایی دفترونو سره اړیکه و نیسی او د نویو تخنیکونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چي خپل تولیدات ښه کړي. هغوي کولای شی د سابو لپاره تخمونه، کیمیاوی سره او نور کیمیاوی مواد تر لاسه کړي. هغوي کولای شی د سوداګرو سره مستقیمی اړیکی ټینګی کړي.

هغوي کولای شی زیاتره کارونه تر سره کړی پدی شرط چي هغوي پدی کي یو نقش ولری او دا هغه شی دی چي هغوی یی اوس نشی کولای. ځو بیلګی په لاندي ډول دي: خو پیغام دا دي چي ۹۰ فیصده بزګرانو د حکومت غوښتنی ته هر کلی ووایه چي تریاک و نه کری، ځینی بزګران د دی کار لپاره زیات کړاو تیروي، حکومت او نړیواله ټولنه دواړه د اور سره بازی کوي، که چیری هغوي خپلی وعدی د هغو کسانو لپاره چي تریاکو ته یی شا کړي، پوره نکړي نو یو بحران به منځته کړي.
همدا اوس چي موږ خبری کوو بزګران دا پریکړه کوي چي د راتلونکی کال لپاره خپلی ځمکی وکری او که نه. دا په ریښتیا سره هغه وخت دی چي ځینی شیان باید د نړیوالی ټولنی او حکومت لخوا تر سره شی.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**د امریکا غږ:** په دې وروستیو ورځو کي ملګرو ملتونو او د امریکا حکومت په هیواد کي د تریاکو د کښت د لړوالی د فیصدی په هکله معلومات خپاره کړي. په دې شمیرو کي توپیر ولي موجود دی او تاسو څنګه ویلای شي چي ستاسو شمیری سمي دي؟

**د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو اوجرم دفتر:** د کرل شوې سیمي په حواله شمیري څه نا څه ورته دي. د تریاکو څخه پاکو ولایتونو شمیر هم په خپل حال پاتي دی. د تریاکو د کښت د شمیر په هکله په مطبوعاتو کي راپورونه خپاره شوی دی خو ما په خپله دغه رپوټونه نه دي لوستي نو زه نشم کولای د میتودولوژي په هکله څه ووایم. زه د هغه څه په هکله چي موږ یي ترسره کوو ډاډه یم. موږ په فزیکي لحاظ د ۱۷،۰۰۰ کیسولونو څخه زیات اندزه کړی او د دې پر اساس موږ حاصلات اندزه کوو. لکه څنګه چي تاسو پوهیږي د هیواد په جنوب کي دا دریم ځل دی چي ۹۸ ٪ تولیدات تر لاسه شوی دی، نو د دغو شمیرنو پر بنسټ موږ ویلای شو چي د حاصلات زیات شوی دی. تیر کال موږ انتظار ویوست او موږ نورو نورو ولایتونو ته ځیر شو چیرته چي اوس مهال هیڅ کښت نه کیږي. په دې رابطه چي مو څه ویلي او اوس چي کومي شمیرې سمي وي هر حالت کي دا یوه تراژیدي دی ځکه چي ډیر زیات مخدره توکي تولید شوی دي.

**ایرنا:** تاسي وویل چي که چیري د افغان حکومت او نړیواله ټولنه خپلو هڅو ته دوام ورکړي نو د اپیمو کچه ټیټیږي، خو که چیري دوی خپلی هڅي ودروي نو د اپیمو کچه پورته ځی. که چیري مونږ په تیرو څو کلونو کي د نړیوالي ټولني کومکونه په نظر کي ونیسو، د اپیمو کښت د سږ کال نه پرته، تل په زیاتیدو و. نو تاسي تر کومي اندازې پورې د نړیوالي ټولني د مرستي تمه لری چي د اپیمو په کښت او تولید کي کمښت رامنځته کړي؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو دفتر:** د کوکنارو د کښت او توليد د کمولو او خصوصا د بديل معيشت د تامينولو لپاره مونږ لا ډيرو مرستو ته اړتيا لرو. زه د دوو شيانو په هکله خبرې کوم: په پراخه کچه بياودانول، او پراختيايي مرستې د هغو خلکو لپاره چې په هيواد کې صرف دوو په سلو کې کوکنار توليدوي. نو دلته دی چې کولای شو د کوکنارو په کښت کې رامنځته شوی کمښت کچه دوامداره کړو، او دا موضوع يقيني کوو چې کروندګر بيرته کوکنارو ته مخه نه کړی.

په سويل کې وضعيت بل شان ته دی. هلته مونږ دې ته اړتيا لرو چې په مخنيوونکو هڅو باندې تمرکز وکړو، او دا مساله ډاډمنه کړو چې ټول لابراتوارنه وران شوي دي، او دا چې له بهره راتلونکې د هيروين د جوړولو کيمياوي موادو کاروانونه او د افغانستان نه بهرته د مخدره موادو مخه ونيولې شي. په دې طريقه مونږ کولای شو د کروندګرو او د مارکيټ ترمنځ اړيکه له منځه يوسو. مونږ په دې عقيده يو چې دا کار بايد په سويل کې تر سره شي، او هلته دی چې مونږ کولای شو په هيواد کې خپلې ستراتيژی ګانې پر مخ بوځو.

**د شمشاد ټلويزيون:** د شمشاد پوښتنه د هغو دوه ويشت په سلو کمښت دی چې تاسې يې يادونه وکړه، دا په داسې حال کې ده چې په مخدره توکو باندې روږدي کسان شميره مخ په زياتيدو ده. له بله پلوه ځينې کارپوهان په دې باور دی چې په هغو کسان چې د مخدره مواد کاروبار کوي بهرنيان دي. تاسې په دې اړه څه نظر لرئ؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** په دې کې هيڅ شک نشته چې د مخدره موادو نه ناوړه استفاده يوه ډيره جدي ستونزه ده او مخ په زياتيدو ده. مونږ په يقين نه پوهيږو خو هر څه چې او مونږ غواړو چې يوه نوی سروې باندې پيل وکړو چې د هغې له لاری د مخدره توکو د ناوړه کارونکې وکړو شميره د هيواد په کچه اټکل کړو. خو په دغه موضوع به کال ته په يقيني توګه وپوهيږو. خو دا موضوع يقينی ده چې دې مسالې ته لا ډيرې پاملرنې اړتيا ده.

ستاسې د پوښتنې د دوهمې برخې په ځواب کې بايد ووايم چې ما د هغې په باره کې تر اوسه پورې کومه شميره نه ده اوريدلې، خو زمونږ د معلوماتو له مخې، دا جوته ده چې په هيواد کې د اپيمو، او دهغه د جوړولو کيمياوي توکو، مورفين، او هيرووينو راکړه ورکړه په ډيره منظمه توګه ترسره کيږي. دا د ډيرو منظمو جنايتکارو شبکو له خوا په مخ بيول کيږي. او زمونږ د معلوماتو له مخې په هغو کې اکثره افغانان دی. دوي همدارنګه په هيواد کې د ځواکمنو ډلو سره ښې اړيکې لري. او همدارنګه دوي له نړيوالو جنايتکارو ډلو سره هم ښې اړيکې لري. په دې مانا چې د دوي اړيکې دوه اړخيزې دي. تر هغه حده چې مونږ پوهيږو دغه شبکه د افغانانو له خوا اداره کيږي، خو لکه څرنګه چې ما وويل، دا يو کاروبار دی. هغوي ته هيڅ مهمه نه چې له کوم ځايه راغلي يي، دوی ته دا مهمه ده چې تا هغه څه وکړي چې له تا څخه يي تمه کيږي.

**راډيو آزادی:** آيا تاسې مونږ ته يو مثال راکړای شئ چې په افغانستان کې په دې کاروبار څوک ککړ دی؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** مونږ نومونه نه ټولوو.

**سهار په خير افغانستان:** د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر له مخې، عامه خبرتيا په افغانستان کې د کوکنارو د کمښت يو له اغېزناکو لاملونو څخه دی چې دولت په ۱۸ ولايتونو کې د دغه کمښت ادعا لري او موږ پوهېږو چې دا دوه لاملونه لنډ مهاله دی. که چيرې د کروندګرو په ژوند کې ښه والی را نشي، د دغه کمښت تضمين نه شي کېدای. زه غواړم وپوهېږم چې دغه تناقص په کوم ځای کې دی؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** ما اوريدلي دي چې دولت ويلي دي چې کوکنار يې له دې کبله له منځه وړي دی، چې موږ يو ګډ رپوټ ليکو چې سږ کال تر کابو ۵۰۰۰ هکتارو ځمکه کوکنار له منځه وړل شوي و چې هغه د توليد درې سلنه جوړوي. په حقيقت کې دغه ۱۸ ولايتونه چې اوس له کوکنارو خلاص دي، تير کال ۱۳ولايتونه او ورم کال يوازې شپږ ولايتونه وو. دغه ولايتونه د له منځه وړو له کبله له کوکنارو نه دی خلاص شوی، بلکې کروندګرو وپيتله چې کوکنار و نه کري. نه د له منځه وړلو له کبله. د له منځه وړلو نسبي اهميت يوازې د يوې وسيلې په توګه وي او نور اهميت نه لري، ځکه دا بله برخه د عامه خبرتيا د خوړو د پراختيا د مرستې لپاره له کوکنارو کرلو څخه د کروندګرو په ليرې ساتلو کې ډير زيات اهميت لري.

**د سبا تلويزيون:** په تير وخت کې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر ډير ځلې د افغانستان له دولت څخه غوښتني دي چې د قاچاقيانو لست رسوا کړي. خو بيا هم دولت هيڅ يو لست خپور نه کړ. او د قاچاقيانو کاروانونه په ازادی سره هره خوا ځي راځي. د دې دليل څه دی او د ملګرو ملتونو نظر په دې باب څه دی؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** زه غواړم چې تاسو دا پوښتنه په خپله له دولت څخه وکړئ.

**ای ايف پی:** يو افغان چې فکر کيږي چې يو ستر د نشه يی توکو قاچاقی وی تيره اوونی په نيويارک کې تورن کړی شو. آيا تاسو پوهيږئ چې د هغه موسسه څومره ستره ده او آيا د هغه بندي کيدل به د هيواد په سهيل کې د نشه يي توکو په کښت باندي کوم اغيز ولري؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** که د موسسي سرغنه هيسته شي، نو موسسه په خپل کار ته دوام ور نه کړي. نو له دې کبله موږ مجبوريو ډير نور هم ونيسو- او دا ډيره مهمه ده. وګورئ سترو بانکونو او کمپنيو ته اقتصادي اتحاديه بنايي له منځه ولاړه شي خو کمپنی لا هم دوام لري.

**د فردا تلويزيون:** د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر دا خبره په وار وار تکرار کړي چې طالبان د کوکنارو د کښت څخه ملاتړ تر لاسه کوي، هغه سيمي چې د دولت او بهرنيو ځواکونو تر واک لاندي دي، نوموړي سيمي به د ترياکو څخه خلاصي شي، ستاسو پلان د هغو سيمو په هکله چې د طالبانو تر کنترول لاندي دي څه دی؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** تاسو د وضيعت سره آشنا ياست او بايد ووايم چي د ځمکي د لويو خاوندانو، مخدره توکو د سوداګرو، د سازمان شويو جرمونو د شبکو تر منځ يو شان تړاو موجود دی او د هغه څه په هکله چي زه غوارم خبري وکړم هغه په فساد ککړ چارواکی او ياغيان دي. زه باور لرم او دا چي دغه دواړه له منځه يوړل شي بايد د دي په وړاندي په ګډه مبارزه وشي. موږ په دي باور يو چي لومړی نه شي کيدای مخدره توکي له منځه ولاړ شي او بيا ياغيتوب او يا هم په معکوس ډول، خو بايد د دواړه په وړاندي ګډه مبارزه وشي، خو د دي سره بايد ځنګه معامله وشي، دا زموږ کار نه دی چي په دي اړه څه ووايو. په دي اړه بايد د افغانستان حکومت او ايساف ځواکونه پريکړه وکړي.

**د طلوع ټلويزيون:** تاسو د ترياکو د کښت ۲۰ ٪ لږوالي ته اشاره وکړه، د دي شميرو مرجع کومه ده او تاسو ځنګه خپله سروې ترسره کوئ؟ زما د پوښتني دومه برخه دا ده چي تير کال افغانستان د نړی په کچه د ترياکو تر ټولو لوړ توليد کوونکی هيواد وه، سږ کال به افغانستان کومه درجه ولري؟

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** اجازه راکړئ ستاسي دوهمي پوښتني په اړه لنډ ځواب ووايم، په خواشينی سره ويلای شم چي افغانستان اوس هم لومړی مقام لري. د هغه څه په حواله چي موږ حساب نيولی، موږ بيلا بيلي ميتودولوژي لرو. موږ په ساحو کي خلک لرو او ساحی اندازه کوي، موږ د ستلايت تصويرونه لرو او بيايي په اطلاعاتو اړوو، موږ په دي هکله ډاډ حاصلو چي د کښت د معلوملو په هکله ډير کلک بنسټ تيار کړو.

**پژواک:** زه يوازي لنډه شرحه غوارم چي آيا په دغه کمښت کي چرس هم راځي او که يوازي د کوکنارو په کښت کي ده ځکه افغانستان تير کال د چرسو په توليد کي لومړی هيواد و.

**د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرم دفتر:** موږ د چرسو دغه ډير صحيح اټکلونه نه کوو، خو داسي ښکاري چي کيدای شي لږ څه کمښت په کي شوی وي خو نه د وچکالی له کبله. زه پوهيږم ي د بلخ ولای هغه له منځه وړي دی خو سږ کال وچکالی د چرسو تخم اغيزمن کړی دی. موږ هيله لرو چي موږ وکولای شو دغه متودولوژي ته پراختيا ورکړو چي د چرسو ساحه هم اټکل کړو ځکه دا هيواد په چټکی سره په هغه برخه کي هم پرمختګ کوی.